د شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال
محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو مدني ګلدسته

# د نوکرۍ
# په باره کښې 15 سوالونه او جوابونه

پښتو



ډيوټۍ ته نه تلل او تنخوا اخستل څنګه دي؟

د نوکر او مالک حقونه

په روژه کښې د نوکرانو نه د عامو ورځو په شان کار اخستل

د سرکاري عهده دار د تحفو حکم


پيشکش:
مجلس المدينة العلميه (دعوت اسلامي)
ترجمو:
ټرانسليشن ډپارټمنټ (دعوت اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د نوکرئ په باره کښې 15 سوالونه او جوابونه [1]

دُعائے خلیفۂ عطّار: یا رَبَّ الْمُصطفٰے! څوک چې دا رساله " د نوکرئ په باره کښې 15 سوالونه او جوابونه " اولولي یا واوري هغه ته د حلال رزق ګټلو توفیق ورکړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د مسلمانانو خوږې مور جانې، حضرت بي بي عائشه صدّیقه رضی اللہ عنہا د پیشمتي په وخت څه ګنډل چې ناڅاپه ترینه ستَن اوغورځیدله او ډیوه هم مړه شوه، په دې کښې حُضُور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم تشریف راوړلو، د مخ مبارک په رڼا ئې تول کور روښانه شو تر دې چې ستَن پیدا شوه، اُمُّ الْمُؤمِنِین رضی اللہ عنہا عرض اوکړو: یا رسُولَ الله! ستاسو مخ مبارک څومره روښانه دے! حُضُور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائیل: د هٔغه چا د پاره هلاکت دے څوک چې به د قیامت په ورځ ما اونه لیدلے شي. عرض ئې اوکړو: هغه څوک دے چې تاسو به اونه لیدلے شي؟ اوئې فرمائیل: هغه بخیل (شُوم) دے. پوښتنه ئې اوکړه: بخیل څوک؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: چا چې زما نوم واوریدو او په ما باندې ئې دُرُودِ پاک اونه لوستلو.

(القول البدیع، ص 302)

سُوزَنِ گُمشُدہ ملتی ہے تَبَسُّم سے ترے شام کو صبح بناتا ہے اُجالا تیرا

(ذوقِ نعت، ص 25)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]...دا رساله د امیرِ اهلِسنّت دامت برکاتہم العالیہ نه په شوو سوالونو او د هغې په جوابونو باندې مشتمله ده.

سوال: یو ګس سرکاري نوکر دے خو ډیوټۍ له نه ځي او د هرې میاشت په وروستۍ تاریخ تنخوا اخلي، آیا د هغه دا طریقه صحیح ده؟ او هغه صدقه او خیرات هم کوي آیا د هغه دا خیرات کول جائز دي؟

جواب: که هغه ډیوټي نه کوي او په دهوکه باندې تنخوا اخلي نو دا ټوله تنخوا حرامه ده. (فتاویٰ رضویه، 19/407 ماخوذاً، حلال طریقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول، ص2120 ملخصاً) د دې په ذریعه زکوٰة او خیرات هم نشي کولے ځکه چې دا د هغه پیسے هډو دي نه او نه دے د هغې مالک دے اګرچه په دې باندې قبضه د ده وي، په ده باندې فرض دي چې د چرته نه ئې دا رقم اخستے دے هلته ئې واپس کړي او ورسره ورسره دې توبه هم کړي. (فتاویٰ رضویه، 19/ 656 661 ملخصاً، ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 395/4)

سوال: په نابالغه باندې د اوبو [لوښي] ډکول څنګه دي؟ آیا اُستاذ په هغه [شاګرد] باندې د اوبو [لوښي] ډکولے شي؟

جواب: والدین یا مالک د چا چې دے نوکر دے د هغه نه علاوه د بل د چا د پاره په نابالغه باندې د اوبو [لوښي] ډکول جائز نه دي او د نابالغه راډک کړے شوي د اوبو [لوښي] کوم چې شرعاً د هغه ملکیت شي د بَل چا د پاره د هغې استعمالول جائز نه دي. (مالک ئې پرې هم صرف د اِجارے [یعني نوکرئ] په وختونو کښې ډکولے شي) د استاذ د پاره هم دا حکم دے چې په نابالغه شاګرد د اوبو [لوښي] نشي ډکولے د هغه د ډک کړے شوي [لوښي اُوبه] پکار هم نشي راوستے. حضرت علّامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رحمۃُاللہِعلَیہ فرمائي: په نابالغه راډکې کړے شوې اوبه چې شرعاً د هغه ملکیت شي، هغه څښل یا د اودس کولو یا غسل کولو یا په بَل څه کار کښې استعمالول، د هغه مور پلار یا د چا چې هغه نوکر دے د هغوئي نه علاوه [نورو له] جائز نه دي، اګرچه هغه

(نابالغه) اجازت هم ورکړي، که اودس ئې پرې اوکړو نو اودس به ئې اوشي او ګنهګار به شي، د دې نه دې مُعَلِّمِين (يعنې استاذان) عبرت واخلي چې اکثر هغوئي په نابالغه ماشومانو باندې د اوبو [لوښي] ډکوي او استعمالوي ئې.
(بهارِ شريعت، 334/1، حصّه:2، ملفوظاتِ امير اهلسنت، 57/1)

سوال: آيا دا احتياط پکار دے چې کله مالک خپل نوکر ته څه ښه څيز [روپئ وغيره] ورکړي نو بيا د هغې نه پس دې پرې څه غټ کار نه کوي ګنې دا به هغه ته داسې ښکاري چې څه کار ئې رانه اخستل غوښتل ځکه خو ئې دا څيز راکړو ګنې هره ورځ خو ئې نه راکوي؟

جواب: که مالک لږ څه ورکړي يا ډير څه ورکړي يا هيڅ هم ورنکړي خو هغه دومره کولے شي چې د اجارے (د نوکرئ د شرائطو) او د عُرف نه زيات کار ترينه نه اخلي. په عُرف کښې دننه دننه که غټ کار وي او که وړوکے هغه خو به ترينه مالک اخلي ځکه چې هغه هم د دغې پيسے ورکوي. که فالتو څه ورنکړي نو بيا خو به هم ترينه هغه کار اخلي. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت، 402/2)

سوال: چې د نوکر په باره کښې په زړه کښې څه تکبر رانشي، د دې څه حل ارشاد اوفرمائيئ.

جواب: مالک دې د نوکر سره شفقت کوي په هغه باندې دې سخاوت کوي، لکه څنګه چې د ځان د پاره ښې جامې اخلي يوه جوړه دې د هغه د پاره هم اوګنډي. دغه شان دې د اختر په موقع باندې د زړه د اخلاصه [رقم وغيره] ورکړي، که کله ښه خوراک پوخ کړي نو هغه له دې هم ورکړي. د کومو ميوو موسم چې راشي مثلاً د آمونو موسم دے نو هغه له دې هم [د آمونو] پيټئ ورکړي. چې غټ اختر راشي او دے قرباني کوي نو يو چيلے دې د ذبح کولو او د پوره ټک ټوک کولو د قيمت سره نوکر له هُم ورکړي د پاره د دې چې د هغه بچي هم خوشحاله

شي. چيلے دې د هغه ملکيت کړي يا دې ورته دا اووائي چې د حضور صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم له طرفه ئې تهٔ قرباني کړه. چې داسې شفقت کوئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه د نوکر په باره کښې به تکبر خوا له هُم نه درځي. د خپل اولاد سره بنده هم داسې شفقت کوي نو د خپل نوکر سره هم داسې کول پکار دي. نوکر داسې خدمت کوي چې اولاد هم بعضې وخت داسې خدمت نه کوي. دا خبره صحيح ده چې نوکر په پيسو خدمت کوي مګر اولاد خو هم د بنده نه پيسے اخلي. بيا څه خبره ده چې نوکر سپک ګڼي او اولاد ته په درَنه سترګه ګوري. ټيک ده د اولاد سره هم محبت کوئ، صِلهٔ رحمي د هغوئي حق دے خو د نوکرانو سره هم ښه سلوک کوئ. الله پاک تاسو مالداره کړي ئيئ څکه خو تاسو لس نوکران ساتلي دي نو ځان د دوئي په ځائے اوګڼئ او سوچ اوکړئ که تاسو نوکر وے نو تاسو به د ځان سره څنګه سلوک خوښولے؟ چې تاسو د نوکر خيال ساتئ نو هغه به اِنْ شَآءَاللّٰه د زړه نه ستاسو خدمت کوي او د داسې وفادارئ اظهار به کوي چې کيدے شي ستاسو اولاد هم داسې اونکړي. ستاسو د پاره به خپل ځان هم قربانوي. فرض کړئ که يو نوکر بے وفا هم اوخيژي نو اولاد خو هم بے وفا خيژي او خپل مور پلار اولډ هاؤس کښې واچوي ، پيسے پټې کړي او اوتښتي يا د پلار په نوم باندې قرض واخلي او اوتښتي. اولاد هم د اسلامي تربيت نه کيدو په وجه داسې ډير څه کوي. په اسلامي کورَنو کښې داسې پيښې نه رامخې ته کيږي خو په ماډرن او صرف د دنيائي تعليم يافته مالدارانو په کورونو کښې داسې پيښې ډيرې رامخې ته کيږي. په غريبانانو او مذهبي کورَنو کښې نسبتاً داسې کم کيږي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 404/2)

سوال: زه په یوه اداره کښې کار کووم چرته چې د مالک له طرفه مونږ یو نوکر ته هم په جمات کښې د جُمعې سره د لـمونځ کولو اجازت نشته، په داسې حالت کښې د جُمعې پریښودو ګناه د چا په ذمه ده؟

جواب: چرته چې جمات وي او جُمعې سره د لـمونځ نه کولو څه شرعي عُذر هم نه وي نو هلته د جُمعې سره لـمونځ ادا کول واجب دي. که یو مالک خپل نوکر د جُمعې سره د لـمونځ کولو نه منع کوي نو هغه او د جُمعې پریښودو والا نوکران به ټول ګنهګار وي او داسې نوکري به هم جائزه نه وي. بعضې ځایونه داسې وي چرته چې تر لرې لرې پورې جماتونه نه وي نو په داسې ځایونو کښې جُمعه نه واجِب کیږي. البته په داسې حالت کښې که مالک د لـمونځ کولو نه هم منع کوي چې له وجې ئې نوکران لـمونځ نه کوي نو داسې نوکري هډو جائز نه ده.

(جهنم کے خطرات، ص192، ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 355/3)

سوال: د دفتر څیزونه مثلاً پرنټر او د فوټو کاپئ مشین وغیره که یو نوکر د خپل ځان د پاره استعمالوي نو د چا نه به اجازت اخستل ضروري وي؟

جواب: که وقف څیزونه وي نو بیا خو به د چا نه اجازت اخستل کافي نه وي او که پرائیویټ وي نو د اصلي مالک یا چا چې څوک نمائنده جوړ کړے وي او اختیار ئې ورکړے وي د هغه په اجازت سره ئې استعمالولے شي. بعضې وخت د اصلي مالک له طرفه منیجر او داسې غټو عهده دارو ته د وړو څیزونو اختیار ورکولے کیږي، که هغوئي ته اختیار ورکړے شوے وي نو د هغوئي نه اجازت اخستو سره ئې استعمالولے شي ګنې استعمالولے ئې نشي .

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 362/3)

سوال: نن سبا د زیاتره نوکرانو سره ښه سلوک نه کیږي، مالک په څه معامله کښې د دوئي مرسته نه کوي او که نوکر ته څه مسئله وي نو هغه نه حل کوي،

دغسې نوکران ډیر د مشکلاتو سره مخ وي، د نوکرانو د حقونو په باره کښې څه لار ښودنه اوکړئ.

**جواب:** د نوکرانو هم حقونه دي او د مالک هم حقونه دي. بعضې وخت مالک په نوکرانو باندې ظلم کوي او که نوکر داسې وي چې مالک ورته محتاجه وي، لکه څنګه چې بعضې نوکران دومره ماهر وي چې کاروبار ئې سنبال کړے وي او هغوئي ته ټولې لارې معلومې وي نو دغسې هغه ډیر قیمتي وي او د مالک کار ئې روان کړے وي نو داسې نوکرانو بعضې وخت د مالک نه د لوبو ګوډاګے جوړ کړے وي لِـهٰذا که د دواړو طرفو نه څوک هم ظلم کوي هغه به ګنهګار وي. زیاتره د مالکانو شکایت کیږي چې دا خلق ظلم کوي خو هر مالک داسې نه وي بلکه بعضې مالکان داسې هم وي چې نوکران د اولاد په شان ساتي او د هغوئي سره ښه سلوک کوي. نوکرانو له هم پکار دي چې د مالکانو سره ښه سلوک کوي، په وخت باندې ورله کار کوي او د هغوئي په مال، بال بچ او کور کښې د خیانت نه کار نه اخلي. که د نوکر کردار صفا وي نو مالک به اخلاقي طور پخپله په ښه سلوک کولو مجبوره وي. عام طور پرې د دواړو لاسونو نه خیژي، خو مالک له پکار دي چې هغه د نوکر خیال ساتي، هغه له په وخت تنخوا ورکوي او په تنخوا پسې ئې کړَوي نه مثلاً سبا به ئې درکړم یا بَله ورځ به ئې درکړم کولو باندې دې هغه نه تنګوي. لکه څنګه چې دلته په وړومبي تاریخ د تنخوا ورکولو رواج دے نو په وړومبي تاریخ دې تنخوا ورکوي. یاد ساتئ! کوم چې د کمې تنخوا والا نوکران وي د میاشت په آخري ورځو کښې د هغوئي تنخوا ختمه شي او په هغوئي باندې قرضونه اوخیژي ځکه که مالک احسان کول غواړي نو د وړومبي تاریخ نه دې دوه ورځې مخکښې هغوئي له تنخوا

ورکوي د پاره د دې چې هغوئي عاجزان پرې خپل قرض خلاص کړي خو داسې کول د مالکانو د پاره لازمي نه دي. دغه شان مالکانو له پکار دي چې د اختر او واده وغیره ښادئ په موقع باندې نوکرانو له تحفے ورکوي د پاره د دې چې د هغوئي زړه خوشحاله شي، دا ورکول اګرچه فرض نه دي، که نه ئې ورکوي نو ګنهګاریږي به نه خو بیا دې ئې هم ورکوي. داسې که د مالک په کور کښې څه ښه څیز پوخ شي نو په نوکر دې هم خوري چې داسې کولو سره به نوکر پخپله وفاداري کوي او د مالک محبت به ئې په زړه کښې ځائے جوړوي. که مالک او نوکر د یو بَل سره ښه سلوک کوي نو اِنْ شَآءَاللّٰه زمونږه معاشره به صحیح شي او د دې سره به ظلم ختم شي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنّت، 506/3)

**سوال:** زه په پریس کښې کار کووم، زمونږ سره عموماً د پرنټنګ ایجنسو والا خپل پلیټونه پریږدي او مونږ دا لیکلي لګولي وي چې "15 ورځې پس به ئې مونږ ذمه وار نه یو." د دې باوجود هم مونږ اخلاقي طور میاشت دوه میاشتې پلیټونه سنبال ساتلي وي او د هغې نه پس مونږه هغه پلیټونه ضائع کړو یا ئې خرڅ کړو. دا ارشاد اوفرمائیئ چې زمونږه دغه پلیټونه خرڅول [څنګه دي؟] او د پلیټونو خرڅیدو نه پس [د هغې د مالک له طرفه] د پلیټونو تقاضا کول څنګه دي؟

**جواب:** ستاسو د خبرو نه داسې اندازه لګي چې د پلیټونو واپس اخستو او ورکولو رواج دے، په داسې حالت کښې ستاسو دا وئیل چې "د 15 ورځو نه پس مونږ ذمه وار نه یو" دا شرط شرعاً غلط دے. چې د چا پلیټونه وي هغه ته به واپس کول وي، که هغه 15 ورځې پس راشي، که میاشت پس راشي او که 100 کاله پس راشي، ځکه چې مالک د خپل څیز د غوښتنې حق لري او خپل څیز غوښتلے شي. د دې حل دا دے چې د چا پلیټونه وي هغه ته دې فون اوکړے

شي چې ”ستاسو پليټونه مونږ سره پراته دي، يوسئ ئې.“ يا که نزدې ځائے وي نو د يو نوکر په ذريعه پليټونه ور اورسوئ، ځکه چې ستاسو د پاره دا پليټونه کيښودل او استعمالول جائز نه دي. البته که د پليټونو والا مالک وائي چې ”زما پليټونه نه دي پکار، ته ئې واخله“ نو بيا به ستاسو اخستل جائز شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 64/5)

**سوال:** بعضې تاجرانو ته چې دا اووئيلے شي چې د خپل کاروبار په باره کښې شرعي راهنمائي حاصله کړئ يا دارُ الافتا ته لاړ شئ نو هغوئي وائي چې ” نۀ مونږ دروغ وايو او نه د چا پيسے خورو، پوره زکوٰة هم ورکوو، ځکه زمونږ د پاره شرعي راهنمائي حاصلول ضروري نه دي.“ په دې باره کښې تاسو څه فرمائيئ؟[2]

**جواب:** که زه دا اووايم چې ”په دې دور کښې 99.9 فيصده کاروباريان (يعنې سوداګر) داسې دي کومو ته چې د تجارت مسئلے نه دي معلومې نو کيدے شي چې مبالغه به نه وي. صرف خبرې کوي چې ”مونږ خو **الله الله** کوو، مونږه ډير لالچ نه لرو، د بچو د پاره رزق ګټو بس“ حالانکه حرام ګټي او خپل اکاونټ کښې ئې جمع کوي او هغوئي ته پته هم نه لګي. هغوئي دا ګڼي چې ” ما کوم د شرابو دکان اچولے دے! يا زه کوم د سود کار کووم!“ حالانکه په وړه وړه خبره دروغ وائي او دهوکے کوي. دا څيزونه دوئي هډو هُم سنجيده نه اخلي، دا ګڼي چې ”په کاروبار کښې دا هر څه چليږي، د دې خبرو نه بغير به کاروبار څنګه کيږي! که دروغ نه وايم نو څيز هډو خرڅيږي نه“ **نَعُوذُ بِالله!** دا د شيطان جوړ کړے شوے ذهن دے. چې دا حال وي نو برکت به د کوم ځائے نه راشي؟

---

[2]... دا سوال شعبه ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنّت جوړ کړے دے او جواب د اميرِ اهلِسنّت دامت بَرَکَاتُہُمُ العالیه دے۔

په لـمانځه کښې به زړه څنګه اولګي، خشوع و خضوع [يعنې په لـمونځ کښې **الله** پاک ته توجّه او په بدن کښې عاجزي]؟ به ئې څنګه پيدا شي د ګناهونو نه به ئې نفرت څنګه زيات شي؟ کوم کاروباري خلق چې زما خبره اوري هغوئي دې د "**دارُ الافتاء اهلسنّت**" نه د خپل کاروبار تفتيش اوکړي، د دې د پاره به باقاعده حاضريدل وي، يا که حاضريدل ممکن نه وي نو د انټرنيټ وغيره په ذريعه رابطه اوکړئ او د خپل کاروبار شرعي راهنمائي حاصله کړئ. د دې نه بغير خپل بال بچ له حلال رزق ورکول ډير ګران کار دے. زه ډيره ښکاره او عامه خبره کووم، د چا په کاروبار مې هيڅ حکم نه دے لګولے. ټولو له مسئلے زده کول پکار دي. که نوکر دے نو د نوکرئ او که مالک دے نو د نوکر د ساتلو او د مالک جوړيدو مسئلے زده کول پرې فرض دي. (فتاویٰ رضويه، 623626/23 ملخصاً) که دا اُووائيئ چې "يار! مونږ په دې لانجو کښې ځان نه اخته کوو" نو د قيامت په ورځ هم اووائيئ چې "مونږ په دې لانجو کښې ځان نه اخته کوو." **نَعُوذُ بِاللّٰه!** چرې داسې اُونه شي چې دوزخ ته اوغورځولے شئ. نو چې مونږ دنيا ته راغلي يو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان يو نو مونږ له به د الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکمونه منل وي، د دې نه خلاصے نشته. تر څو چې کوشش نه کوو نو هيڅ به نه کيږي. **الله** کريم دې مونږ کوشش کولو والا جوړ کړي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 75/5)

**سوال:** که د نوکرانو نه مالک د روژے په حالت کښې هُم د عامو ورځو په شان کار اخلي، هيڅ احساس نه کوي نو په داسې حالت کښې نوکرانو له څه کول پکار دي؟

**جواب:** که مالک د خپلو نوکرانو سره د روژے په حالت کښې رعایت نه کوي او پوره کار ترینه اخلي نو مالک له د داسې کولو په ځائے د روژه دارو سره احسان کول پکار دي. (3) بهر حال [دا خیال کول چې] د کار په وجه به روژه معاف شي یا به قضا کول جائز شي نو داسې نشي کیدے. که د روژے په حالت کښې کار نشي کیدے نو د رزق ګټلو څه بَل سبب اولټوئ خو د کار په وجه یوه روژه هم نشي پریښودے یعنې نه ئې شي قضا کولے.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 309/6)

**سوال:** بعضې مور پلار بچي د سکول نه په چھټئ کولو باندې د وهلو او د نمبرو کټ کولو نه بچ کولو د پاره د دروغو درخواست اولیکي او اُوئې لیږي دغسې پیژندګلو والا خلقو باندې د دروغو سرټیفکیټ هم جوړوي. دغه شان په دفترو کښې هم داسې کیږي چې که نوکر ته چھټي اخستل وي نو هغه د بیمارئ د دروغو درخواست لیږي. آیا داسې د دروغو درخواستونو ورکولو ولؤ له د دې حدیثِ پاک "**دروغژن بیمار مه جوړیږئ ګنې واقعي به بیمار شئ**"

(مسند الفردوس، 421/2، حدیث: 7624) نه عبرت اخستل پکار دي؟

**جواب:** کوم مور پلار او نوکران چې داسې کوي هغوئي د دروغو وئیلو په وجه ګنهګاریږي او د وور د عذاب حق دار جوړیږي. کوم مور پلار چې دا وائي چې "ماشوم بیمار وو" حالانکه هغوئي ته پته وي چې بچے ئې بیمار نه وو بلکه میلمه شوے وو او د حلوه خوړلو د پاره تلے وو. هُم دغسې د بیمارئ د دروغو د

---

[3]... په حدیثِ پاک کښې دي: څوک چې په دې میاشت (یعنې رَمَضان) کښې په خپل غلام باندې تخفیف اوکړي (یعنې کم کار ترینه واخلي) الله پاک به هغه اوبخښي او د دوزخ نه به ئې آزاد کړي

(شعب الایمان، 305/3، ، حدیث: 3608، ابن خزیمه، 192/3، حدیث: 1887)

درخواست ورکولو او چھټي کولو والا نوکر به هم سيل وغيره له تلے وو. ياد ساتئ! بيماريدل بده خبره نه ده بلکه بيماري خو رحمت دے، البته په دروغو وئيلو کښې د آخرت عذاب دے. دا د ګناه مرض د جسماني مرض نه زيات تباه کوونکے دے ځکه په داسې مور پلار او نوکرانو باندې توبه فرض ده. کوم نوکر چې دروغ وائي او چھټي کوي د هغه تنخوا خو به په بيمارئ کښې په چھټئ کولو باندې هم کټ کيږي. (په دې موقع باندې نګرانِ شوریٰ اوفرمائيل:) په پرائيويټ کارخانو کښې معامله بدله وي. او زمونږ دلته مسئلے د وقف دي. الله پاک دې زمونږ مفتيان صاحبان سلامت لري د دوئي په راهنمائيئ کښې مونږ يو اِجاره فارم جوړ کړے دے په کوم کښې چې د زياتو [اُوور ټائم]، کمو او ليټ منټ وغيره انتظام موجود دے. دلته د اجيرانو داسې نظام دے چې که د يوې ډيرې غټې انډسټرئ او فيکټرئ والا هم دا اوګوري نو هغه به وائي چې واقعي د دعوتِ اسلامي په شعبه جاتو کښې د اجيرانو يو مثالي نظام دے. ځکه چې زمونږ دلته د اجيرانو ټول نظام د شرعي قانون مطابق دے هم دا وجه ده چې دا نظام د ډيرو اجيرانو او ادارو د بچت ذريعه ده. (امير اهلسنت دامت برکاتهم العاليه اوفرمائيل:) [يعنې] د بيماريدو نه به هم ځان ساتي او په معمولي بيمارئ کښې به هم د [تنخوا] کټ کيدو نه د بچ کيدو د پاره نوکرئ له راځي. ياد ساتئ! په شرعي قوانينو باندې عمل کولو کښې برکت دے. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 35/7)

**سوال:** "په سَنَد او تَجربه" کښې کوم يو څيز زيات اهم دے؟ دا هم اوفرمائيئ چې د چا سره تجربه او هنر دے، خو د هغه تعليم نشته، آيا هغه ته "تعليم يافته" وئيلے شي؟

**جواب:** د دې مختلف صورتونه دي: ﴿1﴾ د چا سره چې علم او تجربه دواړه وي نو هغه ګس زيات کامياب وي. ﴿2﴾ چې د چا سره صرف علم وي هنر يا تجربه نه لري نو داسې کس عام طور د تجربے نه لرلو په وجه زيات نه کاميابيږي. په ډيرو ځايونو کښې د تجربے په بنياد باندې نوکري ورکولے کيږي تر دې چې سند (سرټيفکيټ) هم ترينه غوښتلے شي د دې له وجې تعليمِ يافته تجربه نه لرونکے ګس بے روزګاره پاتې شي، او کم تعليم يافته تجربه کار ګس په روزګار شي، البته کله د دې اُلټا هم اوشي. بهر حال کله سند پکار راځي او کله هنر.

ياد ساتئ! صحابهٔ کرام عليهم الرّضوان د ډير علم والا وو خو د هغوئي سره مُروَّجه سَنَد (د نن سبا په شان سرټيفکيټ) نه وو، ځکه علم پکار دے، ځکه چې سند خو جعلي هم جوړيدے شي، ممکنه ده چې د دې په ذريعه د علم نه لرلو باوجود نوکري ميلاو شي، خو تجربه نقلي نشي کيدے، ځومره تعليمِ يافته خلق د بے روزګارۍ په وجه خودکشيانې کوي، خو تجربه کار بے روزګاره نه پاتې کيږي. (ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 419/7)

**سوال:** آيا دفتر ته تللو د پاره په روژه کښې ګيره خرئيلے شي؟

**جواب:** ګيره خرئيل يا د يو موټي نه کمول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 141. فتاویٰ رضويه، 505/6) په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د روژے په حالت کښې دا کار کول خو نور زيات بد دے، البته فرض روژه به ئې ادا شي خوګناه کولو سره د روژے نورانيت ځي. (فتاویٰ رضويه، 556/10) د ګناه هلاکتونه ډير زيات دي او خصوصاً په رَمَضَانُ الْمُبَارَک او په روژه کښې د ګناه کولو په باره کښې د مصطفٰے کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په رمضان کښې څه ګناه اوکړه نو **الله** پاک به د هغه د يو کال اعمال برباد کړي. (معجم اوسط،

414/2، حدیث:3688) ځکه دې بنده نۀ په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې ګناه کوي او نۀ د رَمَضَانُ المُبَارَک نه علاوه. یاد ساتئ! داسې نوکري شرعاً جائز نه ده په کومه کښې چې شرط دا وي چې هره ورځ به کِېره خرَئیے بیا به راځې یا د کېرې د پرېښودو اجازت نه وي ځکه داسې نوکري پرېږدۍ او بَله نوکرۍ اختیار کړئ. (فتاوٰیٰ بحر العلوم، 311/1) دا شرعي مسئله ده کومه چې ما بیان کړه. تاسو که د کوم عالِمِ دین یا مفتي صاحب نه پوښتنه اوکړئ نو هغه به هم زما د خبرې سره اتفاق اوکړي.
(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنّت، 39/7)

**سوال:** زما سره یو موټر سائیکل دے چې په هغې کښې پټرول کمپني اچوي آیا دغه موټر سائیکل زه د کور د کار د پاره استعمالولے شم او آیا زما ورونړه هم دغه موټر سائیکل چلولے شي؟

**جواب:** د کومې کمپنۍ له طرفه چې تاسو ته موټر سائیکل درکړے شوے دے که پرائیویټ کمپني وي او د موټر سائیکل د کور د کارونو د استعمالولو اجازت ئې هم درکړے وي نو هغه استعمالیدے شي، خو که ستاسو سرکاري نوکري ده یا د کمپنۍ له طرفه د کور د کار د پاره د استعمالولو اجازت نشته نو څومره چې رواج وي هغه همره استعمالیدے شي، خو دا ډیره مشکله ده چې یوه کمپني داسې اووائي چې " ستاسو ورور او دوستان هم دا موټر سائیکل استعمالولے شي." د کمپنۍ موټر سائیکل د کور د کار د پاره استعمالولو کښې څومره رواج دے په دې باره کښې به مفتي صاحب راهنمائي اوکړي.
(په دې موقع باندې مفتي صاحب اوفرمائیل:) بعضې وخت د کمپنۍ له طرفه مکمل اجازت وي چې په هر کار کښې ئې استعمالولے شئ بالفرض که په موټر سائیکل باندې زیات کار کول وي نو بیا به هم هغه ته پټرول اچول وي، څومره

چې په ټوله میاشت کښې استعمالوي او که د هر مقصد د پاره ئې استعمالوي وروستو به ورله کمپنۍ هغه همره رقم ورکوي. بهر حال چې څنګه قوانین وي د هغې مطابق به عمل کول وي. (ملفوظاتِ امیر اہلسنّت، 87/7)


**سوال:** يو سړے سرکاري عُهده لري او د خلقو سره د هغه د ذاتي نوعیت تعلقات جوړ شي او هغه خلق ورله تحفے راوړي نو آیا په دې حالت کښې به تحفے قبلول د رشوت په حکم کښې راځي؟

**جواب:** که د مخکښې نه ئې تعلقات او د تحفو لین دین وو او وروستو دا په سرکاري نوکرۍ اولګیدو او [او دا حیثیت ورته حاصل شو چې] خلق په هغه کار ویستلے شي، یعنې هغه ته د څه قِسمه قهر او تسلط حاصل دے او اوس ئې هم ورسره د مخکښې په شان نارمل لین دین دے نو دا به اوچلیږي. (بہار شریعت، 900/2، حصه:12) البته که د دې په ذریعه [په هغه] خپل څه کار ویستل غواړي، نو بیا به د زړې طریقے مطابق کیدونکے د تحفو لین دین هُم په رشوت کښې شمیرلے شي. (بہار شریعت، 901/2، حصه:12) هُم دغه شان که د عُهدے په وجه د لین دین سلسله زیاته شوه، یا چې کوم څیز ئې ورکولو د هغې قیمت زیات شو [یعنې اوس ګران څیز ورکوي]، [یا] اوس د غټ سائز څیز ورکوي یا د څیز مقدار زیات شو نو دا زیاته حصه رشوت دے. (بہار شریعت، 900/2، حصہ: 12) خو که دا ګس مالداره شو څکه ئې څیزونه زیات کړل او د خوراکونو قِسمونه ئې زیات کړل نو د دې حکم بیل دے (یعنې په اخستو کښې ئې باک نشته). (بہار شریعت، 900/2 901، حصه:12) هُم داسې اوس د هغه خصوصي دعوت کول چې که هغه نه وے راغلے نو دعوت به نه کیدو، نو اګر که د هغه په وجه ئې درې څلورو نورو له هم دعوت ورکړو نو بیا هم دا خصوصي دعوت په رشوت کښې داخل دے.

(بهارِ شریعت، 2/900 901، حصه:12) البته مطلقاً چې کوم دعوت وي هغه رشوت نه وي لکه د ماتحت له طرفه د واده دعوت درکړے شو او تاسو هغې له لاړئ. په دې کښې هم که عامو میلمنو له ساده خوراک ورکړے شو او افسر، نګران یا عُهده لرونکو ته خاص خوراکونه وړاندې کړے شول نو دا خاص خوراکونه به په رشوت کښې حسابیږي. خو څه چې په ټولو خوړلے کیږي که هم هغه په افسر یا نګران هم اوخوړے شي نو بیا رشوت نه دے. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 7/87)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** څوک چې نوکر ساتي هغه له د نوکر ساتلو او څوک چې نوکري کوي هغه له د نوکرئ کولو د ضروري احکامو علم حاصلول فرض دي. که د خپل حالت مطابق ئې زده نه کړي نو ګنهګار او د وور د عذاب حق دار به وي او د نه زده کولو په وجه بیا بیا په ګناهونو کښې اخته کیدل د دې نه علاوه دي. په دې باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د امیرِ اهلسنت رساله ''حلال طریقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول'' او د ''بهارِ شریعت'' جلد 3 صفحه 104 نه 184 پورې ''اِجارہ کابیان'' اولولئ.

د راتلونکې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فیضان مدینه محله سوداګران پرانۍ سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net